**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د فلسطين د ازادۍ لپاره د صلاح الدين نقشه**

صلاح‌الدين په ۱۱۳۷م کال کې په عراق کې نړۍ ته سترګې وغړولې او په داسې حال کې مشهور شو، چې اسلامي خاورې ټوټه ټوټه شوې او صليبيانو اشغال کړې وې. کله چې په ۱۱۶۹م کال په مصر کې قدرت ته ورسېد، د خلافت دولت د ځواکمنولو او مختلفو عربي سيمو د يووالي لپاره يې هڅې پيل کړې. صلاح‌الدين د مسلمانانو د يووالي ارزښت درک کړی و، له همدې امله يې د فلسطين شاوخوا کوچنۍ خاورې له ستراتېژيک اړخه متحدې کړې او د صليبيانو پر ضد يې يوه متحده جبهه پرانيسته. د صلاح الدين د لښکرکشۍ د عطف ټکی په اوسني اردن کې هغه مهال و چې په ۱۱۸۷م کال د کراک مسيحي پاچا د مسلمانانو پر يوه کاروان د "رينالد دو شاتيلون" بدنام بريد وکړ. دې پېښې يوه لنډمهاله سوله له منځه يووړه او صلاح‌الدين ته يې فرصت ورکړ چې خپله پخوانۍ هيله، چې د بيت‌المقدس ازادي وه، پوره کړي.

د اسلامي جبهې د يووالي لپاره د صلاح‌الدين هڅې د صليبيانو لخوا د سورېې په ساحلي ښارونو او مهمو کلاوو لکه "کراک او کرک ډي مونترال" کې، چې په اوسني اردن کې دي، له ستونزو سره مخ شوې. د صليبيانو دغو جبهو د مصر، لوېې سورېې او عراق د يوې برخې تر منځ اړيکې ختمې کړې، چې دا د صلاح الدين د دولت اصلي محورونه ګڼل کېدل. عمادالدين زنګي مخکې د لوېې سورېې په يو ځای کولو سره د يووالي ډېره کښښوده او دغه يووالي بيا د نورالدين لخوا، چې مصر يې له سورېې سره متحد کړ، دوام وکړ.

د حطين تر جګړې وړاندې ځينې پېښې وشوې، چې پيل يې په ۵۸۲هـ.ق کال د "پينځم بالدوين" پاچا له مړينې وشو. د صليبي شهزاده ګانو تر منځ د قدس خاورې د تاج و تخت لپاره کورنۍ شخړې رامنځته شوې. صلاح‌الدين له دغو ناامنيو ښخه ګټه واخيسته او په ستراتېژيکه توګه يې د صليبي جنګونو په چارو کې مداخله وکړه. د پينځم بالدوين پاچا له مور "سيبيل" سره د "ګي لوزينيان" واده کولو نوموړی تر سلطنت پورې ورساوه، چې په پايله کې د "ګي ډي لوزينيان" او "دربيم ريموند" تر منځ چې دی هم د پاچايۍ لپاره نوماند و، د شخړې لامل شو.

په اوسني لبنان کې د طرابلس له پاچا، "دربيم ريموند" سره د صلاح‌الدين اوربند او په اوسنۍ ترکيه کې د انطاکيې له پاچا "دربيم بوهموند" سره د هغه بل اوربند نوموړي ته د صليبيانو په سياست کې د لاسوهنې اجازه ورکړه. د صلاح‌الدين لخوا له "دربيم ريموند" او "دربيم بوهموند" سره د ايتلاف نوي کولو په ستراتېژيک ډول د طرابلس او انطاکيې صليبي حکومتونه کمزوري کړل، چې دغه کار د کراک پاچا "رنالد ډي شاتيلون" غوسه کړ او پر مخکيني اوربند سربېره يې د يوه سوداګريز کاروان په لوټلو سره خپل تړون مات کړ. د دغه تړون د ماتولو په مقابل کې د صلاح‌الدين ډيپلوماتيکې او

ستراتېژيکي کړنلارې د "ګي" او "رينالد" تر منځ بې‌باوري او تفرقه رامنځته کړه او د حطين جګړې ته يې لاره هواره کړه.

صلاح‌الدين له فرصت څخه په استفادې د مسلمانانو صفونه متحد کړل او په ټول مصر، بين‌النهرين، د عراق په شمال موصل او سوريه کې يې لښکرې چمتو کړې. هغه په ۵۸۳هـ.ق کال کې له دمشق څخه حرکت وکړ او خپل اصلي هدف يې، چې د قدس د حاکميت ترلاسه کول و، پټ کړ. د صلاح‌الدين دغه حرکت نه يوازې دا چې "رينالد دې شاتيلون" وګواښه، بلکې د صلاح‌الدين نظامي او ستراتېژيک قدرت يې هم وښود. صلاح‌الدين ايوبي داسې ستراتېژيک حرکتونه وکړل، چې په پايله کې د برخليک ټاکونکې جګړې، حطين لامل شول.

تر دغې جګړې وړاندې د صلاح‌الدين د کشف ځواک په "سپفوريس" يا اوسني الجليل سيمه کې د پام وړ بريا ترلاسه کړه او د صليبيانو په زړونو کې يې وېره او ارهاب پيدا کړ. صلاح‌الدين د خپلو قوماندانو د نظر پر اختلاف سربېره بيا هم برخليک ټاکونکې جګړه وټاکله، چې په دې سره يې خپل راتلونکی مسير څرګند کړ. د نوموړي هدف د صليبيانو په صفونو کې له اختلافاتو او د "پينځم بالدوين" پاچا له مرګ څخه ګټه اخيستل وو، چې د هغوی ارادې کمزورې کړي. د صليبيانو داخلي اختلافات، اخلاقي انحطاط او بې‌باوري د هغوی له سقوط سره مرسته وکړه. صليبيان چې پنځوس زره کسان وو، د مسلمانانو د متحدې جبهې پر وړاندې يې مبارزه پيل کړه.

صلاح‌الدين له دغو کمزورو ټکو څخه ګټه پورته کړه، يو ستراتېژيک پلان يې جوړ کړ او داسې دامونه يې کېښودل چې صليبيان پکې راګير شول. صلاح‌الدين د ځمکې او جغرافيې د ارزښت په درک کولو سره صليبيان په ستراتېژيک ډول د طبريه يا اوسني الجليل سيمې ته را کش کړل او له يوه بد وضعيت سره يې مخ کړل. صليبيان ستړي او تږي د صلاح الدين په دام کې ولوېدل. صلاح‌الدين په ستراتېژيک ډول پر مسيحي لښکر بريالی شو او له مستقيمې نښتې څخه يې ډډه وکړه، تر دې چې وضعيت د مسلمانانو په ګټه پای ته ورسېد.

په پايله کې د حطين جګړه په ګرمه هوا کې وشوه، د صليبيانو له کمزوريو (درنو زغرو او د اوبو کمښت) يې ګټه واخيسته او مسلمانان بريالي شول. حطين يوه سخته جګړه وه، چې صلاح‌الدين د رواني جګړې، محاصرې او د صليب د رښتينې مجسمې د تصرف کولو په مرسته پر صليبيانو رواني اغېزې زياتې کړې.

په حطين کې د صلاح‌الدين برياليتوب د الهي نصرت ښکارندويي کوي، چې له هغو کسانو سره يې ژمنه شوې چې د الله تعالی دين ته نصرت ورکوي. دا جګړه د خلافت او صليبيانو په جګړو کې د عطف ټکی دی، چې په پرېکنده توګه د صلاح‌الدين په برياليتوب او د لوېې سوريې د متحد کولو لپاره په وروستيو هڅو سره پای ته ورسېده. د بيت‌المقدس ښار د صليبيانو تر ۸۸ کلونو اشغال وروسته د صلاح‌الدين د ستراتېژيک پلان په مرکزي ټکي بدل شو. د صلاح‌الدين اصلي هدف د قدس ازادي وه.

هغه د قدس تر محاصرې وړاندې د قدس ښار په ستراتېژيک ډول د مديترانې له بحيرې څخه بېل او منزوي کړ. صلاح‌الدين د مسيحيانو د سمندري ځواکونو د نږدې کېدو د مخنيوي لپاره د مصر له سمندريز ځواک سره مرسته وکړه او د خپلې نظامي ستراتېژۍ بشپړه کړنلاره يې نندارې ته وړاندې کړه.

د صلاح‌الدين د ستراتېژۍ زور د حطين تر جګړې وروسته معلوم شو، چې د صليبيانو پر ساحلي ښارونو يې تمرکز کړی و. نوموړي د طبريه، عکا، يافا، عسکالون، صيدا، بيروت، جبيل او داسې نورو سيمو په فتحه کولو سره په سيمه کې د صليبيانو شتون ختم کړ. دغه ساحلي کلاوې چې له ډېر وخت راهيسې يې د مسلمانانو خاورې نيولې وې، يو پر بل پسې سقوط شوې او د صليبيانو سنګر له منځه لاړ. هغه په لومړيو کې د ساحلي ښارونو د امنيت په ټينګښت سره صليبيان له سمندري اډو څخه محروم کړل، د هغوی ځواکونه يې کمزوري کړل او د اروپايي مرستو مخه يې ونيوله. بهرنۍ ډيپلوماټيکې هڅې دا وې، چې له قسطنطنيې سره يې ايتلاف وکړ، د ايټاليا له سمندري ځواکونو سره يې ستراتېژيکې معاملې وکړې او د صليبيانو پر پاچاهانو يې د هغوی نفوذ محدود کړ.

د مال او ځان لپاره منظمه کړنلاره د دې لامل شوه، چې بې شمېره برياوې ترلاسه شي. د فتحو دغې لړۍ سياسي ليدلوری بدل کړ، صليبيان يې کمزوري کړل او د بيت‌المقدس په ازادۍ سره وروستۍ کچې ته ورسېده. د صلاح‌الدين رهبرۍ يو نوی دوران پيل کړ، استعماري خوځښت يې له ستونزو سره مخ کړ او له سيمې څخه يې په بشپړه توګه د صليبيانو ايستلو ته لاره هواره کړه.

د بيت‌المقدس پر لور د صلاح‌الدين په پرمختګ سره د ښار صليبي ساتونکي له ستونزو سره مخ شول. په بيت‌المقدس کې تر ۶۰۰۰۰ ډېرو صليبي جنګياليو د صلاح‌الدين د ځواکونو د مخنيوي لپاره چمتووالی پراخ کړ. د ښار دفاعي حالت يې قوي کړ، پر هره غونډۍ يې منجنيقونه کېښودل او د مسلمانانو لخوا د نږدې پېښېدونکې محاصرې د مخنيوي پر وړاندې يې خندقونه وکيندل. د صلاح‌الدين ستراتېژي په يوه ښه جوړ شوي نظامي پلان کې را څرګنده شوه. هغه په دې هڅه کې و، چې اسلامي ځواکونه سره متحد کړي، صليبيان په خپل قلمرو کې کمزوري کړي او بيت‌المقدس د مرستندويه ځواکونو په برخه کې منزوي کړي. صلاح‌الدين د جهاد په موخه د مسلمانانو د تنظيم لپاره له يوه رسنيز کمپاين څخه ګټه واخيسته. د ټولې اسلامي نړۍ د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره يې فتحې او ساحلي برياوې نورې هم زياتې کړې. صلاح‌الدين ۱۲ ورځې بيت المقدس محاصره کړ، تر دې چې مسيحيان د ۱۱۸۷م کال د اکتوبر په ۲مه تسليم شول. د صلاح‌الدين تر ټولې غوره توپخانې د دېوالونو په نړولو کې مهم رول درلود. تر سختې جګړې وروسته دې ته چمتو شو، چې د صليبيانو له يوه لوی نظامي مشر "باليان دي ايبلين" سره چې د بيت‌المقدس پر باليان مشهور و، خبرې اترې وکړي. صليبيان د بيت المقدس تسليمولو ته چمتو شول؛ جزيه ورکول او يو شمېر نور شرطونه يې هم ومنل.

بیت‌المقدس ته د صلاح‌الدین ننوتل په دې معنا وو، چې ښار نور ازادی شوی دی. صلاح‌الدین پر صلیبیانو د مناسبې جزیې په ټاکلو سره پر هغوی رحم وکړ. صلاح‌الدین بیت‌المقدس ته له ننوتلو سره سم امر وکړ چې ښار بېرته په لومړي حالت جوړ کړي او د صلیبیانو لخوا رامنځته شوي بدلونونه برعکس کړي. مسیحیانو ته اجازه ورکړل شوه، چې پاتې شي، جزیه ورکړي او د اسلامي قوانینو تر چتر لاندې ژوند وکړي. د یادونې وړ ده، چې صلاح‌الدین د کلیساوو د نړولو وړاندیزونه رد کړل او له اسیرانو سره یې ډېره مهرباني وکړه. نوموړي ټول زندانیان ازاد کړل او ان د هغو کسانو پر کورنیو مهربانه شو چې شپه او ورځ یې په صلیبي جګړو کې ګډون کړی و. د مسیحیانو سرچینو او تاریخ لیکونکو د صلاح‌الدین پر بې‌مثاله صبر او انسانیت اعتراف کړی چې عمل یې د صلیبیانو له جنایتونو سره په بشپړ ټکر کې و.

تر فتحې اته ورځې وروسته مسجدالاقصی پاک شو او د جمعې لومړی لمونځ پکې ادا شو. قاضي محی‌الدین ابن‌الزکي یوه قوي خطبه وویله او پر کفر د بریا له امله یې د الله سبحانه وتعالی ستاینه وکړه او ټینګار یې وکړ چې ټولې چارې باید د الهي احکامو پر اساس ترسره شي او هغه برکتونه یې ومنل چې مومنانو ته ورکړل شوي وو. دې خطبې د فتحې پر ارزښت او د مسجدالاقصی پر سپېڅلتیا او تاریخي ارزښت ټینګار وکړ. هغه د الله سبحانه وتعالی له اوامرو څخه د پیروۍ او د اسلامي خاورو د ازادۍ لپاره د جهاد غوښتنه وکړه.

صلاح‌الدین یوازې پر بیت المقدس بسنه ونه کړه او د لویې سوریې د جنوبي او شمالي سیمو په لوري لاړ. د "کراک او کرک دې مونترال" کلاوو د هغه پر وړاندې مقاومت وکړ، چې محاصرې یې یو کال دوام وکړ. پر سیمه د خلافت د حاکمیت د کنټرول لپاره د صلاح‌الدین د هڅو په برخه کې، نوموړي ته د دغو کلاوو تسلیمول یو مهم ګام و. وروسته صلاح‌الدین خپل تمرکز د شمال پر لوري زیات کړ او په طرابلس او انطاکیه کې یې سیمې خپل هدف وګرځولې. په طرابلس او انطاکیه کې فتحو د صلیبیانو سنګرونه کمزوري کړل، چې په پایله کې یې اوربند وکړ او د صلاح‌الدین لخوا فتح شوي قلمرونه یې ومنل.

صلاح‌الدین د پام وړ سیاسي ځیرکتیا او هوښیاري وښوده. هغه د اسلام د صفونو د یووالي او د صلیبیانو پر وړاندې د جهاد ارزښت درک کړی و. له ځینو صلیبي قدرتونو سره یې یو لنډمهاله اوربند وکړ، چې نوموړي ته یې د دې اجازه ورکړه چې د خپل قدرت پر ټینګوالي تمرکز وکړي او د بې ځایه بوختیاوو مخه ونیسي.

علماوو د جهاد لپاره د امت د چمتووالي، پر ځان د باور زیاتوالي او فکري ملاتړ په برخه کې اساسي رول درلود. صلاح‌الدین له علماوو سره نږدې اړیکه درلوده او د جګړې او اداري چارو په اړه یې له هغوی سره مشورې کولې. قاضي فاضل چې یو لوی عالم دی، په خپلو مشورو یې مهم رول ادا کړ.

له پوره چمتووالي وروسته صلاح‌الدین د زړه له تله الله سبحانه وتعالی ته دعاوې وکړې او د ځان په اړه یې پر الهي نصرت اعتراف وکړ. د هغه په دعاګانو او سجدو کې تواضع وه؛ پر الله سبحانه وتعالی یې پوره باور و او د هغه سبحانه و

تعالی له لوی ذات څخه یې د بریالیتوب غوښتنه کوله. د هغه عزت او ویاړ په حقیقت کې اسلامي شریعت ته د هغه د اخلاص او ژمنتیا نښه وه. لکه عمر بن خطاب «رض» چې د امت تر منځ یووالي او شریعت ته قوي ژمنتیا لرله او ټینګار یې کاوه چې اسلام د امت د عزت سرچینه ده.

دا «موږ یوازې د عبادت او جهاد لپاره پیدا شوي یو» خبره وه چې صلاح‌الدین دمشق ته د داخلېدو په حالت کې ټینګار پرې کاوه؛ دا پر ایمان د هغه ژمنتیا او ثبات ښوده. د صلاح‌الدین بریا یوازې له نظامي اړخه نه وه، بلکې د هغه د ایمان، اسلامي اصولو ته د ژمنتیا او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له لارې څخه د پیروۍ پایله وه. د هغه بریالیتوب د ریښتینو مومنانو په منظومولو کې د قرآن د ژبې قدرت څرګند کړ او د اسلامي نړۍ د یووالي لپاره یې د ایمان او جهاد پر ارزښت ټینګار وکړ. په حطین جګړه کې د هغه بریالیتوب او وروسته د قدس فتحه کول د یوې بشپړې ستراتېژۍ پایله وه؛ چې یووالی، سیاسي هوښیارتیا، حکومت، ډیپلوماسي او د اسلامي اصولو پر اساس جهاد ته مخلصانه ژمنتیا پکې شامل وو. د هغه میراث د ستراتېژیکې رهبرۍ لپاره د څراغ حیثیت لري او له اسلامی اصولو څخه کلکه پیروي ګڼل کېږي.

نن ورځ امت له همداسې یو حالت سره مخ دی. د امت لوڼې او بچیان په غزه کې په بې‌رحمۍ وژل کېږي. استعمارګرو یهودو مقدسه خاوره اشغال کړې او سبب یې د خلافت نشتون، پر مصنوعي او غیرطبیعي دولتونو (دولت-ملت) د مسلمانانو د جبهې وېشل او پر همدغو دولتونو د مزدور حکامو، چې د استعمارګرو د ګټو ساتونکي دي، واکمنېدل دي. هغه خاوره چې صلاح‌الدین له صلیبیانو څخه ازاده کړه او هغه خاوره چې خلیفه عبدالحمید ثاني یې ساتنه وکړه، د استعمارګرو قدرتونو د تړون په پایله کې د یهودو لاس ته ولوېده. امت اوس هم یوه بل صلاح الدین ته شېبې شماري او یوه بل داسې اتل ته په تمه دی، چې د صلاح‌الدین په څېر شجاعت، اسلامي عقیدې ته ژمنتیا او د جهاد مینه ولري.

په ریاض کې د مسلمانو حکامو وروستۍ ناسته او د صلاح‌الدین ایوبي کړنلاره مقایسه کول یو غیرواقعي کار دی. په داسې حال کې چې دغو رهبرانو په خپلو خبرو او ویناوو کې د غزې جنایتونه محکوم کړل، د دوی په خبرو کې هغه ځواک نه و، چې د ریښتیني بدلون سبب شي او د اسلامي ارزښتونو لپاره اقدام وکړي. په جګړه کې بریا عملي اقدام ته اړتیا لري او یوازې خبرې بسنه نه کوي. د صلاح‌الدین مثال موږ ته دا را ښوده، چې په حساس حالت کې له پرېکنده اقدام پرته یوازې خبرې کول ګټه نه کوي. د مسلمانو رهبران چې د دوو دولتونو د حللارې ملاتړي دي، په حقیقت کې د اسلام له جوهر سره خیانت کوي. د فلسطین او مسجدالاقصی مبارکه خاوره د هغه ځای د اوسېدونکو او د هغوی د دښمنانو تر منځ نه شي وېشل کېدی. د دې خاورې د حللارې په اړه پخپله الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾ [بقرة -۱۹۱]**

**ژباړه:** *«له هغوی سره وجنګېږئ، تر دې چې پر هغوی برلاسي شئ او هغوی له هغه ځایه وباسئ چې تاسو یې ترې ایستلي یئ.»*

عملي اقداماتو ته دعوت کول نه یوازې دا چې یوه جمعي دنده ده، بلکې اسلامي عقیدې ته زموږ ژمنتیا هم ښیي. د ظلم پر وړاندې د مبارزې او د هغو کسانو د ملاتړ لپاره چې له دین سره مرسته کوي، د قرآن حکم باید د مسلمانانو په زړونو کې وځلېږي. د نن ورځې پوځیان باید د غزې اواز ته لبیک ووایي، لکه څنګه چې صلاح الدین د مسجدالاقصی د ساتلو لپاره لښکرې چمتو کړې. دغه پوځیان له صلاح‌الدین سره ګډه عقیده لري او هغه د اسلام قوي عقیده ده. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ﴾ [انفال -۷۲]**

**ژباړه:** *« کله چې څوک د دین لپاره له تاسو نصرت وغواړي، نو پر تاسو فرض ده چې دوی ته نصرت ورکړئ.»*

اې مسلمانو سرتېرو! اې د صلاح‌الدین بچیانو! یوازې اسلام موږ ژوندي کولی شي او یوازې اسلام مو په حرکت راوستلی شي. همدا اسلام موږ ته راښیي، چې له الله سبحانه وتعالی څخه باید ووېرېږو او موږ چمتو کوي، چې باید د قیامت د لویې ورځې له حساب څخه ووېرېږو. همدا اسلام موږ اماده کوي چې خپل لوی او کوچني عملونه د الله سبحانه وتعالی د اوامرو پر اساس تنظیم کړو.

اې مسلمانو افسرانو! پر تاسو واجب دي چې په غزه کې ستاسو پر خویندو او وروڼو د بې‌رحمه تېري پر وړاندې له مظلومانو څخه د دفاع او د مبارکې خاورې د ازادۍ په خاطر د خپلې وجیبې په اړه ژور فکر وکړئ. دغه فکر باید د اسلامي عقیدې د اصولو پر اساس او د قیامت په ورځ له حساب ورکونې څخه د پوهاوي له مخې وي. ایا تاسو په دغو عملونو کې د بریا او شهادت یوه هیله نه لرئ؟ ایا تاسو په دې دنیا او اخرت کې د عزت هیله نه لرئ؟ الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ * وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِنَ اللهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [صف -۱۳-۱۲]**

**ژباړه:** *«الله به ستاسو ګناهونه وبښي او تاسو به هغو باغونو ته داخل کړي، چې تر ونو لاندې به یې ویالې بهېږي او په عدن جنت کې به پاک کورونه درکړل شي، دا یو لوی بریالیتوب دی. هغه بل څه (دنیوي نعمت) چې تاسو یې خوښوئ، هغه به هم درکړل شي، نصرت د الله تعالی لخوا دی، فتحه نږدې ده او مومنانو ته زېری ورکړئ.»*

اې مخلصو مسلمانو نظامي افسرانو! نن ورځ چې موږ په غزه کې د خپلو خویندو او وروڼو د مصیبت شاهدان یو، نو عملي اقدام ته دعوت پکار دی. دا چې امت له دې لویې غمیزې سره مخ دی، نو اسلامي عقیده او د صلاح‌الدین

ایوبي تګلاره باید تاسو د مهمو او اغېزناکو ځوابونو خواته روان کړي. دا ډېره مهمه ده چې د صلاح‌الدین ایوبي د عصر او د غزې د اوسني وضعیت تر منځ موازي خط کش کړل شي، لکه څنګه د هغه رهبری له اسلامي عقیدې څخه اخیستل شوی قدرت نندارې ته وړاندې کړ؛ اوس هم یو ځل بیا اړتیا ده، چې د صلاح‌الدین ایوبي سیاسي، ستراتېژیکه او نظامي هوښیاري په پام کې ونیول شي. اوس د لاس په کار کېدو وخت دی. د اسلام تعلیمات ومنئ او د صلاح‌الدین ایوبي لاره تعقیب کړئ. همدارنګه منظم شئ، ترڅو په غزه کې له خپلو خویندو او وروڼو څخه دفاع وکړئ او د هغو کسانو د ظلم پر وړاندې ودرېږئ، چې د الله سبحانه وتعالی له غضب سره مخ دي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ * إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَيَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئاً وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [التوبه :۳۹-۳۸]**

**ژباړه:** *«اې مومنانو! پر تاسو څه شوي دي، کله چې تاسو ته د الله په لاره کې د وتلو وويل شي، تاسو پر ځمکه درانده کېنئ. ایا تاسو د اخرت په بدل کې د دنیا ژوند غوره کړی دی؟ که داسې ده نو تاسو باید پوه وئ، چې دنیوي ژوند د اخرت په پرتله ډېر کم دی. که تاسو نه پاڅېږئ، نو الله به تاسو ته دردناک عذاب درکړي او ستاسو پر ځای به کوم بل قوم راولي. تاسو په دنیا کې الله ته هېڅ زیان نه شئ رسولی او الله په هر څه برلاسی دی.»*

د سختو ستونزو پر وړاندې د غزې د مسلمانانو استقامت، په حقیقت کې له غښتلي ایمان څخه د اخیستل شوي قدرت ښکارندویي کوي. د ظلم متحد ځواکونه د هغو کسانو عزم نه شي ماتولی، چې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې کلک ولاړ دي. برعکس ظالمان د مومنانو د روحیې په مقابل خپل ځانونه کمزوري ګڼي. د کفارو او یهودو ګډ ځواکونه چې په پرمختللې ټکنالوژۍ او وسلو سمبال دي، ونه توانېدل چې د غزې مسلمانان دې تر خپلې ولکې لاندې راولي. یهود هغه کسان دي چې الله سبحانه وتعالی یې په اړه فرمايي:

**﴿لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ﴾ [آل عمران –۱۱۱]**

**ژباړه:** *«تاسو ته له (ژبني) اراز او ځور پرته هېڅ زیان نه شي رسولی، که چېرې له تاسو سره جګړه وکړي، تاسو ته به شا کړي او بریالي به نه شي.»*

کفار چې د کلکو کلاوو په منځ کې دي، په مات زړه ولاړ دي او د مومنانو د مقاومت مقابله نه شي کولی. د استعمارګرو په صفونو کې اوسنی وېش د حطین له جګړې وړاندې د صلیبیانو د وضعیت په څېر دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿لَا يُقَـٰتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًۭى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَآءِ جُدُرٍۭ بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌۭ ۚ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌۭ لَّا يَعْقِلُونَ﴾ [حشر – ۱۴]**

**ژباړه:** *«هغوی (یهود) له تاسو سره ډله‌ییز جنګ نه کوي، بلکې په کلکو کلاوو کې دننه او د دېوال تر شا جګړه کوي. هغوی په خپل منځ کې سخت مخالف دي. تاسو ګومان کوئ، چې دوی به متحد وي، خو د دوی زړونه له یو او بل څخه بېزاره دي؛ ځکه دوی هغه قوم دی چې فکر نه کوي.»*

د مسلمانانو په توګه موږ ته دا یادونه کېږي، چې زموږ عملونه به د قیامت په ورځ ارزول کېږي. هغه حاکمان او افسران به په دې ورځ امت ته د خپل خیانت ځواب وایي، چې هسې ولاړ دي، د ظالمانو جنایتونه نندارہ کوي او د هغوی پلوي کوي. د نظامي ځواک د چمتووالي لپاره دعوت کول، که لوی وي که کوچنی؛ په اسلامي عقیده او نبوي سنتو کې ريښه لري. د دغو حاکمانو او افسرانو دغه بې‌پرېتوب ممکن د دې لامل شي، چې د دوی پر ځای به نور داسې پوځیان ځایناستي شي، چې له الله سبحانه وتعالی او د هغه له لارې سره به رښتینې مینه لري. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿هَـٰٓأَنتُمْ هَـٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ ٱلْغَنِىُّ وَأَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ ۚ وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا۟ أَمْثَـٰلَكُم﴾ [محمد –۳۸]**

**ژباړه:** *«پام مو وي، چې تاسو ته بلنه درکول کېږي، ترڅو د الله په لاره کې مال ولګوئ. په تاسو کې ځینې داسې کسان دي، چې بخیلي کوي. څوک چې بخیلي کوي، په حقیقت کې پر خپل ځان بخیلي کوي؛ ځکه الله خو شتمن دی او تاسو هغه ته اړ یئ. که تاسو مخ واوړئ، نو الله به ستاسو پر ځای بل قوم راولي او هغه به بیا ستاسو په څېر نه وي.»*

د مسلمانانو په پوځ کې اې د امت بچیانو! په یاد ولرئ چې د اسلام او مسلمانانو لپاره بریالیتوب یوازې په انساني ځواک پورې محدود نه دی، بلکې د الله سبحانه وتعالی لخوا ورکول کېږي او هغو صادقو او وړ کسانو ته په تمه دی، چې د هغه د دین په لاره کې قرباني ته حاضر دي. د نظامي ځواک لپاره دعوت کول، په حقیقت کې د تلپاتې اخرت په بدل کې د دنیا معامله کول دي. د نبوت پر منهج د خلافت تاسیس د مسلمانانو د واحدې جبهې ضامن او د امت د عزت او دبدبې لپاره د لارې پرانیستل دي. دا هغه دعوت دی چې په اسلامي عقیده کې ژوره ریښه لري او د قیامت په ورځ د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې د ځواب ویلو په اړه پوهاوی ورکوي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ * وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْساً لَهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ * ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنْزَلَ اللهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ﴾ [محمد :۹-۷]**

**ژباړه:** *«اې مومنانو! که الله ته نصرت ورکړئ، هغه به تاسو ته نصرت درکړي او ستاسو ګامونه به کلک کړي او کوم کسان چې کافر شوي دي، د هغو لپاره هلاکت دی او الله د هغوی عملونه ضایع کوي؛ ځکه دوی دغه (قرآن) چې لله نازل کړی، قبول نه کړ، نو له همدې امله الله د هغوی عملونه ضایع کړل.»*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عبدالرحمن قطز**

**ولایه پاکستان**

**۱۴۴۵هـ.ق کال د جمادي الثاني ۱۸مه**

**۲۰۲۳م کال د ډسمبر ۳۱مه**

**ژباړن: صهیب منصور**